www.esteqlaal.net
anwari@netzero.com

سلطان جان کلیوال شنبه ۳۱مارچ ۲۰۱۸

# د محترم ضیاء نظام په لیکنی څو لنډی خبری!

د آریانا افغانستان آنلاین په ویب پانه کی د مارچ د میاشتی په (۲۱) نیټه د اساسی قانون د تعدیل په برخه کی تردی عنوان لاندی «تعدیل قانون اساسی افغانستان، راهگشای حل اساسی بحرانات در کشور» محترم ضیاء نظام صاحب یوه اوږده لیکنه کړیده. ما دا مقاله په پوره غور ولوستله. د مقالی ټوله نتیجه دا روځی چی:

د افغانستان اوسنی اساسی قانون چی مرکزیت باندی تکیه لری، باید په پارلمانی نظام او یا لږ تر لږه په ریاستی او پارلمانی ګډ (شریک یا مختلط) نظام باندی واړول شی، ترڅو په هیواد کی موجودی ستونزی له منځه ولاړی شی.

زه محترم نظام صاحب پوره نه پیژنم، خو دومره خبر یم چی هغه د حقوقو د پوهنځی نه فارغ شوی نو په حقوقی مسایلو به حتمی ښه پوهیږی. د همدی پوهی برکت به و چی د پخوانی جمهور رئیس ښاغلی حامد کرزی د واکمنی په ټوله دوره کی په بیلوبیلو هیوادونو کی د اوږدو کلونو د پاره د سفیر په توګه دندی تر سره کړیدی، خو د اشرف غنی د واکمن کیدو نه را وروسته لکه چی کومه رسمی دنده نه لری.

خیر په هر صورت دندی کله وی او کله نه، خو یو وطنپال شخص که په هر حالت کی وی د خپل وطن او وطنوالو د آبادئ او ښه ژوندانه په فکر کی حتمی وی او د توان په اندازه د ښیګڼی د پاره لاس و پښي وهی او کار کوی.

زه په دی پوره باوری یم چی محترم نظام صاحب هم له همدی ډول اشخاصو نه یو شخص دی. هغه چی د اساسی قانون د تعدیل په هکله کوم نظریات او د لایل وړاندی کړیدی صرف د دی د پاره دی چی په وطن او وطنوالو یی زړه درد کوی او د ستونزو د سم حل په فکر کی دی، زه یی د وطنپرستانه احساساتو قدر کوم او په درنه سترګه ورته ګورم، خو د قدردانی سره سره یی د اساسی قانون د تعدیل په هکله د وړاندی شوو دلایلو سره موافق نه یم.

زه غواړم د نظام صاحب د نظر سره د خپل مخالفت دلایل په لنډه توګه داسی وړاندی کړم.

محترم نظام صاحب لیکی: «... یکی از نقیصه های عمدهٔ این قانون اساسی آنست که در حالات بحران های احتمالی راه های دیموکراتیک قانونی بیرون رفت از بن بست ها پیش بینی نشده و این امر ناشی از نظام

ریاستی متمرکز در کشور است...» شاید محترم نظام صاحب به د همدی اساسی قانون په څلورمه ماده کی دا فقره هم لوستی وی :

پښتو متن «د افغان کلیمه د افغانستان د ملت پر هر فرد اطلاق کیږی»

دری متن « بر هر فرد از افراد ملت افغانستان کلمهٔ افغان اطلاق می شود».

اوس چی زمونږ د لوړ مقام ځنی حکومتی غړي، زمونږ د پارلمان او مقننه قوی بعضی غړي او هم شاید د قضائیه قوی یو څو لوړ رتبه غړي، د اساسی قانون د شورا غړی چی پخپله یی دا قانون جوړ کړیدی او د قانون ساتونکی او تطبیقونکی ځنی نور محدود غړی، چی د افغانیت نه انکار کوی او وایی چی «زه افغان نه یم یا من افغان نیستم» چی په یقین سره به جناب نظام صاحب هم د رسنیو له لاری دا خبری اوریدلی وی. نو پوښتنه داده چی آیا دا ستونزه هم د اساسی قانون او د ریاستی نظام پوری اړه لری او که دا هسی یوه ستونزه ده چی قانون نه منونکی یی د یوی ملی معضلی په توګه د خپلو شخصی ګټو او یا د پردیو د ګټو د تأمین د پاره را منځ ته کوی؟

**دی قانون ماتونکو ته کوم نوم باید ورکړ شی؟**

**او د کوم میتود نه باید کار واخستل شی چی دا معضله پری حل شی؟**

**که دا قانون پارلمانی جوړ شی آیا دا ستونزه به حل شی؟**

داسی نوری ډیری پوښتنی شته چی ځواب نه لری.

همدا رنګه د اساسی قانون نهمه ماده لومړی فقره وایی:

پښتو متن « کانونه او نوری تر ځمکی لاندی زیرمي او لرغونی اثار د دولت ملکیت دی»

دری متن «معادن و سایر منابع زیرزمینی و آثار باستانی ملکیت دولت می باشد.»

زه پوره باور لرم چی د یوه باخبر شخص په توګه به محترم نظام صاحب په دی ښه خبر وی چی همدا اوس په ټول هیواد کی د پنځه زره نه تر لس زره پوری کانی منابع د همدی دولتی زور واکانو له خوا چی هم په حکومت او هم په پارلمان کی د لوړو مقاماتو خاوندان دی، په خپل زور په غیر فنی او غیر قانونی توګه استخراجوی او لکه د مخدره موادو به څیریی په قاچاقی توګه نورو نړۍ ته استوی.

- آیا دا هم په ریاستی سیستم پوری اړه لری او که د زورواکو په خپل زور او د قانون نه په سرغړونوپوری؟
- آیا جناب نظام صاحب همدا نن د پنجشیر د زمردو، د بدخشان د لاجوردو، د سروبی د یاقوتو، د کونړ او نورستان د کونسیتو او تورمالینو، د سمتی او نورابی او زرکشان د طلاو، د هیلمند د خان نشین د

یورانیومو او د مالګ دوکان د اراګونایتو، د پکتیا د شډل د ازبستو، د لوګر د کرومایتو او په زرګونو نورو معدنونو نه خبر لري چې د دی ملی شتمنیو نه څوک او څنګه ګټه اوچتوی؟

- آیا دا هم د ریاستی نظام او د مرکزیت د قانون پوری اړه لری که د هغو زورواکو په شخصی اعمالو پوری چې په پاکستان او ایران کی د وطن د تباهی درسونه لوستی دی؟؟

د هیواد د اساسی قانون شپاړسمه ماده حکم کوی:

پښتو متن«...په هیواد کی د نورو مروجو ژبو له جملې څخه پښتو او دری د دولت رسمی ژبی دی»

دری متن«.... و سایر زبان های رایج پشتو و دری زبان های رسمی دولت می باشند».

ددی حکم معنی داده چی هر شخص چی دولتی وظیفه ولری او یا په دولتی وظیفه ګمارل کیږی باید په دواړو ژبو دری او پښتو وپوهیږی.

- آیا زمونږ په موجوده دولتی نظام کی دا ستونزه چی د نیم نه زیات دولتی کارمندان نه یواځی په پښتو ژبه لیک لوست او خبری نشی کولی، خو که څوک د قانون ددی مادی د تطبیق غوښتنه وکړی او اقلاً په هغو کسانو چی نوی دولتی وظیفی تر د لاسه کوی ددی حکم د تطبیق غوښتونکی شی، په هغوی باندی د فاشست، قوم پرست او ژبنی تعصب لرونکی نومونه ور تپل کیږی.
- آیا دا هم د ریاستی نظام له امله دی؟

جناب نظام صاحب د اداری سیستم د بنې په هکله د اساسی قانون یو سل و اتمه ماده را اخلی او وایی چې ټول اختیارات د مرکزیت په لاس کی دی او ولایتی او ولسوالیو شورا ګانی اجرائیوی صلاحیتونه نه لری او یواځی والیانو او ولسوالانو ته مشوره ورکولی شی.

زه په دی و نه پوهیدم چی محترم نظام صاحب ولی دی حالت ته د ستونزی یا مشکل په سترګه ګوری، که چیری د ولایتی شوری رئیس هم د والی غوندی او د ولسوالیو د شوری رئیس (چی تر اوسه لا هیڅ وجود نه لری او د نامساعدو شرایطو له امله د ولسوالیو د شورا ګانو ټاکنی نه دی تر سره شوی) د ولسوال غوندی اجرائیوی صلاحیتونه ولری، نو

- آیا هره ورځ به په یوه اداری واحد کی ددی دوه واکمنانو ترمنځ د وظیفوی تداخل په اساس ستونزی څو چنده نوری هم زیاتی نه شی؟
- آیا د وظیفو نه د سوء استفادی، عقدو، ګروپی او نورو شخصی ګټو د پورته کیدو د پاره به لاپراخه زمینه برابره نه شی؟

جناب نظام صاحب په خپله لیکنه کی د فرانسی د دولت په مثال راوړلو چی یوه نیمه ریاستی یا مختلط دولتی اداره ده ډیر حساب کوی او هغه ته په کتو سره په افغانستان کی هم دا ډول دولتی سیستم ګټور بولی.

مگر په دی برخه کی بیا څه نه وایی چی د فرانسی د هیواد سیاسی، اقتصادی او ټولنیز حالات څه ډول دی او افغانستان په کوم ډول حالاتو کی قرار لری؟

- آیا د داسی یوه هیواد مقایسه لکه افغانستان چی [(٪۸۰) خلک پکی نالوستی (بیسواده) دی، د (٪۹۰) نه زیات خلک پکی بیکاره دی، تر دری میلیونو نه زیات خلک یی مهاجر او په نورو ملکونو کی په بدو خالاتو کی ژوند کوی، د خوراک د پاره پکی ډوډئ او د څښاک د پاره پکی اوبه درک نه لری، د خپلو امنیتی ځواکونو د دوه ورځو مصارف نشی پوره کولی، د سلو نه پکی زیات سیاسی گوندونه چی ټول یا د مذهب، یا د قومیت په بنه جوړ شویدی وجود لری، د خپل ملی هویت (افغانیت) نه د پردیو د پلان له مخی انکار کوی، والیان او قوماندانان پکی خپلی چوکی میراثی بولی، د جمهور رئیس لومړی معاون یعنی دویم لوړ دولتی مقام، د اجرائیه ریاست دویم مرستیال یعنی څلورم یا پنځم لوړ دولتی مقام د یوه والی یعنی تقریباً دری سوه وم دولتی مقام ته بیعت کوی او د همدی دولت په ضد چی دویی پخپله واکمنان دی ائتلاف کوی، د پارلمان هغه وکیلان چی په ملی شتمنیو خیټه اچولی، د مخدره موادو په قاچاق کی لاس لری او یوائی د چور او چپاول په برخه کی یی ځنی دولتی قرار دادونه له لاسه ورکړیدی او ځنی خو یی لا په خپل هیواد تور لگوی چی خاوره یی د کوم بل هیواد په وړاندی استعمالیږی چی دا ډول تور لگول د قانون له مخی یو ملی خیانت دی، خو د پارلمانی مصونیت نه په استفادی سره په خپل دولت هم تور لگوی او خپل باداران خوشالوی، او دا ټول له یوی مخی لگیا دی د دولت په وړاندی دسیسی جوړوی او په سلکونو نوری خود سرئ پکی روانی وی، او تر ټول بده لا داچی د هیواد د جغرافیی (٪۱۰) خاوره یی د یاغیانو او تروریستانو په لاس کی وی، په زرگونو ښونځی پکی تړلی وی، بیگناه انسانان د دی وحشیانو په صحرایی محکمو کی سنگسار کیږی او په همدی توگه په زرگونو نوری ستونزی پکی وجود لری،] بیا دداسی یوه هیواد سره لکه فرانسه پرتله کول ماته بیخی ډیره عجیبه ښکاری.

تر ټولو لویه پوښتنه چی د ښاغلی نظام صاحب په لیکنه کی ماته پیدا شوی داده چی:

محترم نظام صاحب په کوم اطمینان سره دا خبره کوی که د ریاستی نظام قانون که په پالمانی او مختلط نظام واړول شی نو بیا به دا پورته ذکر شوی ستونزی له منځه ولاړی شی؟

په دی خو ټول پوهیږو چی قوانین تغییر نشی راوستلی د قوانینو سم تطبیق دی چی تغییرات راولی نو که دا قانون د نظام صاحب د غوښتنی سره سم تعدیل شی آیا داسی تضمین شته چی بیا به په هیواد کی زورواکان او د قدرت خاوندان قانونه ته غاړه کیدی او بی قانونه کړه وړه به ختم شی؟؟

که داسی کوم تضمین وی نو هغه به څه وی؟؟

اوس چې د مرکزیت په قانون کې دومره خودسري رواني دي چې لس مستوفیان یې نه شي حسابولی نو که دا پارلماني یا نیمه ریاستي ته واړول شي آیا څه فکر کوې چې په هره کوڅه کې به ځانګړی سلطنت را منځ ته نه شي؟

بله خبره چې زه پرې پوه نه شوم هغه داده چې په اساسي قانون کې د قانون د تعدیل صلاحیت د لوی جرګې دی او لویه جرګه قانون داسې را پیژني:

دری متن: « لویه جرگه متشکل است از:

- **۱ـ اعضای شورای ملی.**
- **۲ ـ روسای شوراهای ولایات و ولسوالیها و وزراء ...»**

اوس نو په دې شرایطو کې که دا لویه جرګه جوړه شي، په داسې حال چې د ولسوالیو انتخابات نه دي شوي او د ولسوالیو شورا ګانې عملاً وجود نه لري

- آیا دا لویه جرګه به قانوني مشرعیت ولري؟

او بل داچې ترڅو چې دا زورواکي له دولتي مقامونو نه لرې شوي نه وي آیا بې له همدوی به نورو ملي څېرو ته په دې لویې جرګه کې د اشتراک زمینه برابره شي؟

ځواب واضح او ځرګند دی چې هیڅکله نه، نه، نه..... او نه.

نو که همدوی بیا دې ملت ته نوي قانون جوړ کړي آیا دا به داسې معنی ونه لري لکه د باران تیښته او د ناوې لاندې دریدل؟

یوه بله په زړه پوري خبره دا هم ده چې زمونږ په هیواد کې یو ډیر عجیب رواج دادی چې هرڅوک چې د کوم زمامدار په وخت کې په کوم مهم دولتي پُست کې کار کوي، تر هغې چې دی هلته تشریف لري هرڅه سم وي او د ده په نظر په هیڅ دولتي کار کې نه خلا وي او نه نیمګړتیا. خو کله چې دا مقام د لاسه ورکړي نو بیا یې حقایقو ته را پام شي او د دولت د خالیګاو او د هماغه شخص د نیمګړتیاو په را سپړلو پیل وکړي چې دی یې له مقامه لرې کړیدی.

ماته دا کار یوه اخلاقي کمزوري ښکاري چې زمونږ په سیاسي کلچري جوړښت کې ځای نیولی دی. (دا یوه عمومي خبره ده هیله من یم چې جناب نظام صاحب یې خپلې لوري ته توجهه نه کاندي)

زما په اند که مونږ ټول د هغو وړو جزیرو نه چې د قوم، مذهب، ژبې، سمت او نورو په نامه جوړې شویدي او مونږ یکې د بندیانو په څیر ساتل شوي یو، ځانونه را خلاص او آزاد نکړو، نو که هر ډول قانون جوړ کړو

لکه د همدی قانون په څیر به (چی زما په نظر بهترین قانون او زمونږ د هیواد دراونو حالاتو سره بیخی سم او برابر قانون دی) یوائځی په کاغذ لیکلی پاتی شی او ملت به تری هیڅ دول ګټه وانه شی اخستلی.

http://moj.gov.af/fa/page/legal-frameworks/١٦٨٣٢٩٩٤١٦٨٤

زه د جناب نظام صاحب له دی نظر سره هم بیخی مخالف یم چی وایی:

«البته هنگام تدوین و تصویب آن هیچ یک از دست اندرکاران متوجه به عواقب آن نبودند،»

ماته ځکه دا خبره سمه نه برېښی چی دا قانون د هیواد ډیرو لویو قانون پوهانو جوړ کړیدی، په میاشتو میاشتو یی کار پری کړیدی، د هیواد عینی او ذهنی شرایط یی تحلیل او ارزیابی کړی او بیایی دا قانون جوړ کړیدی، نو که اوس واوایو چی دوی دی ټکی متوجه نه وو چی ریاستی نظام د ملت په تاوان دی، دا به دی قانون پوهانو ته یو ډول سپکاوی وی. چی نه باید ورته وشی.

په آخر کی جناب ضیاء نظام صاحب ته اطمینان ورکوم چی زما دا لیکنه یوائځی د شرایطو د تحلیل په موضوع پوری اړه لری او په هیڅ ډول نه غواړم چی له دی نه خدای مکړه لکه د ځینو بحثونو په څیر د حدودو نه د دباندی بحث د پاره زمینه برابره شی. مننه،

**پای**